مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید ۲۰۲۶/۱۱/۱۴

نیابتي جګړه، که د سمون او بدلون سوله ییزې هڅې؟

په افغانستان کې د ننه افواهاتو او په پاکستان کې د افغان جنګي ډلو د شتون راپورونو ته په کتو داسې ښکاري چې افغانستان د خپل سیاسي او امنیتي تاریخ یوه بل حساس پړاو ته د ننوتو په حالت کې قرار لري. د ولس ترمنځ ورځ تربلې زیاتېدونکي اندېښنې، د نویو مخالفو ډلو ټپلو راټوکېدل، په کور د ننه د اختلافاتو راپورونه او د سیمې د هېوادونو متضادې ګټې داسې پېچلې چاپېریال رامنځته کوي چې د هېواد د راتلونکي لپاره خطرناکې پایلې درلودلای شي. دغه شان وضعیت اندېښنې راپاروي او ژوري ارزوني ته اړتیا لري؛ په ځانګړې توګه د افغانستان جغرافیایي موقعیت او زیان منونکي تاریخي شالید ته په کتو چې تل د جیوپولیټیکي سیالیو ښکار ګرزول شوی دی. بنأً موږ باید د احتمالي راټوکیدونکو ناورینونو، ځرګندو نیمګړتیاو، سیاسي تعبیرونو او بې‌اساسه ادعاوو ترمنځ توپیر درک وکړو.

د اوسنی نظام له بیا واکمن کیدو څخه څه باندې پنځه کاله وروسته، افغانستان له یوه متضاد حالت سره مخ دی. هېواد که څه هم له هغو کورنیو جګړو، چور چپاول څخه وژغورل شو چې د تېر حکومت له نسکورېدو وروسته یې اټکل کېده او یو حاکم ځواک په ټول هېواد کنټرول لري، له لسیزو سیاسي پاشلتیا وروسته یې ځمکنی بشپړتیا او اداري جریان تضمین کړی دی؛ خو له دغې سرتاسري واکمني سره سره، نظام لا هم له جدي ننګونو سره مخ دی. نړیواله انزوا، د بشري حقونو ستونځې، اقتصادي ترینګلتیا، د معاصرو زده کړو په برخه کې ورځ تر بلې زیاتېدونکي او نه جبرانیدونکي محدودیتونه هغه عوامل دي چې د هېواد د اوږدمهاله راتلونکي په هکله اټکل له سختو پوښتنو لاندې راولي. بنأً افغانستان په یادو برخو کې داسې بنسټیزې بیا ارزوني ته اړتیا لري چې اقلاً د زده کړو په برخه کې د روښانه راتلونکي درلودلو په دعوه کې ریښتونولي مو تضمین شي.

د وسله‌والو مخالفو ډلو را ځرګندېدل چې راپورونو له مخې په پاکستان کې له پټنځایونو او ملاتړ څخه برخمنې دي، یو بل داسې اندېښمنوونکی اړخ دی چې جدي پاملرنه غواړي. د ډېرېدونو راپورونه، د پخوانیو امنیتي کسانو ښکېلتیا، د سیاسي او پوځي شبکو جوړېدل ښئي چې کورنۍ نیمګړتیاوې په تدریجي ډول له بهرني ملاتړ سره غوټه کېږي او په افغانستان کې د لا ډېرې بې‌ثباتي لامل کېدای شي. البته د مخالفو نیابتي ډلو شتون باید د یوه منظم بدیل سیاسي واک د رامنځته کېدو په معنا ونه ګڼل شي. د هغوی د رهبري جوړښتونه، سیاسي لیدلوری، وړتیاوې، جغرافیایي حضور او د ولسي ملاتړ کچه لا هم تیت او پاشلي دي. یوازې اعلامیې نشي کولای د داسې بدیل شتون ثابت کړي چې په ملي کچه مشروعیت او د حکومتولي اغېزمنه وړتیا ولري.

له پراخ ولسي ملاتړ څخه برخمن، په هېواد کې د ننه راټوکیدلي، خپلواک باوري او عملي سیاسي پروګرام او سوله ییزې سیاسي مبارزې ته د روښانه ژمنتیا په نشتوالي کې، د وسله‌والو ډلو ډېرېدل د دې پر ځای چې د هېواد د ژورو سیاسي ستونځو د هواري لپاره لار پرانیزي، سیاسي ټوټه ټوټه کېدل لا پسې ژوروي.

د افغانستان جغرافیایي موقعیت، امنیتي چاپېریال، اقتصادي وړتیاوې او سیمه‌ییز اهمیت د تل په څېر د ګاونډیو هېوادونو او نړیوالو ځواکمنو هېوادونو پام ځانته راړوي. چین، روسیه، ایران، پاکستان، د امریکا متحده ایالات او د خلیج هېوادونه هر یو د افغانستان په اړه جلا ګټې او تګلارې لري. خو له افغان سیاسي لورو سره د هغوی ډیپلوماتیکې اړیکې باید په اتوماتیک ډول د همغږو پوځي ارادو او پلانونو د ثبوت په توګه تعبیر نشي؛ سیاسي انګېرنې او ګومانونه باید د ثابت جیوپولیټیک واقعیت په توګه وړاندې نشي.

د افغانستان په سیاسي او امنیتي چارو کې د پاکستان تاریخي لاسوهنو ته په کتو، د افغان چارواکو تورونه او په رسنیو کې له افغان توپکوالو سره د دغه هیواد د اوسني رول په اړه خپاره شوي راپورونه له پامه نشي غورځول کېدای. دغه نوښتونه، په ځانګړي ډول د تاریخي مخینو او د سیمې د پېچلو سیاسي او امنیتي تحولاتو په رڼا کې، جدي څېړنو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته اړتيا لري. په ورته وخت کې، د بهرني ملاتړ، يا د وسلوال تقابل لپاره د چمتووالي په اړه ادعاوې بايد عيني واقعيتونه نه بلکې د باوري شواهدو پر بنسټ وسنجول شي.

پر دې سربېره، هغه خطر له پامه نشو غورځولای چې د افغانستان په کور د ننه سياسي اختلافات د بهرنيو هېوادونو له امنيتي محاسبو سره غوټه شي، نو پراخ سيمه‌ييز او نړيوال اړخونه خپلولای شي. ښائي ببلابېل لوبغاړي هڅه وکړي چې د سياسي اړيکو، نيابتي شبکو، اقتصادي فشارونو، يا د ځانګړو ډلو د ملاتړ له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ کړي. د دغه کار پايلې هغه وخت خورا ويجاړونکې ثابتېدای شي چې افغان سياسي ډلې د واک د ترلاسه کولو لپاره د بهرني پوځي ملاتړ په لټه کې شي. د نيابتي ځواک په توګه له پاکستان سره درېدل، د دغه هېواد په هکله په افغانستان کې د خورا منفي ذهنيت شتون، د افغانستان له ملي ګټو سره په ټکر کې دي او د هېواد د سياسي خپلواکي او راتلونکي لپاره نه جبران کېدونکې پايلې درلودلای شي.

په تېرو پنځو لسيزو کې د افغانستان ترخې تجربې د جنګي ځواک او د پردیو د نيابتي ډلو په رول کې د سياسي واک د حکومتونو د نسکوريدو د هڅو په هکله روښانه او څرګند خبرداری ورکوي. هغه داسې چې دغه کړنې ملي حاکميت تر پښو لاندې کوي، د خپلواک ګراف ښکته کوي، د سياسي جوړجاړي هيلې کمزوری کوي، او هېواد ناامنيو په نوې څپو کې ډوبوي. دغه اندېښنه د پاکستان په اړه په خورا لوړه کچه صدق کوي، چې د افغانستان په کورنيو شخړو کې د دغه هيواد لخوا د نيابتي لوبغاړو ملاتړ تل د افغان ولس په منځ کې د سختې کرکې په مرکز کې قرار لري. د نيابتي ډلو په تړاو قضاوت بايد پرته له استثنا پر ټولو سياسي ډلو يو شان تطبيق شي. هېڅ افغاني ډله بايد د واک ترلاسه کولو لپاره د بهرنۍ پوځي ملاتړ ترلاسه کول مشروع او د منلو وړ لاره ونه ګڼي. تاريخ ثابته کړې چې کله هم کورنۍ جګړې د متضادو بهرنيو ګټو لپاره په وسيله بدلې شوې دي، انساني، اقتصادي او ټولنيز تاوان يې يوازې عامو افغانانو ته رسيدلی دی او بهرني لوبغاړي تل د خپلو بدلېدونکو ستراتيژيکو ګټو سره سم خپلې تګلارې او د ملاتړ اړخونه بدلوي. د افغانانو ترمنځ اختلافات هم بايد سملاسي د وسلوالې نښتې نښه ونه ګڼل شي. پوښتنه دا ده چې ايا اختلافات د سوله ييزو لارو چارو له لارې هوارېږي او که بهرنيو لاسوهنو ته لاره هواروي.

د تاريخ په دغه حساسو شېبو کې د افغانستان اغېز درلودونکي مذهبي، سياسي او ټولنيز مشران مهم مسؤليت لري چې د سوله ييز سياسي سمون او بدلون لپاره داسې چوکاټ جوړ کړي چې واک يې له افغان ملت سره وي. باوري سياسي بديل بايد له حاکم نظام سره د مخالفت يا د جنګي ځواک پر بنسټ نه، بلکې د خپل سياسي ليدلوري، ولسي باور، حساب ورکونې او ملي ګټو ته د ژمنتيا له مخې وپېژندل شي. هر ډول تلپاتې جوړجاړی بايد د ټولنې د ښېلابېلو پرګنو رښتينې ګډون تضمين او د هېواد د وګړنيزو (ديموګرافيکو) واقعيتونو څرګندونه وکړي. سيمه‌ييز لوبغاړي هم بايد د اغيزمنې ديپلوماسي له مخې مجبور شي چې له داسې تګلارو ډډه وکړي چې سياسي نفاق ته لمن وهي يا افغانستان د ستراتيژيکو سيالیو پر ډګر بدلوي.

د افغانستان تاريخي شالید ته په کتو پوهيږو چې نه کودتاوې، نه جنګي بریاوې او نه هم د يوې ډلې پر ځای د بلې ډلې واک ته رسيدل کولای شي سياسي مشروعيت، بنسټيز ثبات او يا هم ملي پخلاينه تضمين کړي. بنا اساسي انتخاب د تېرو ويجاړوونکو تجربو تکرار نه بلکې د سوله ييزو او ولس‌محوره اصلاحاتو ته مبارزه ده. افغانستان بلې نيابتي جګړې ته نه، بلکې ژورو سياسي اصلاحاتو ته اړتيا لري، سيالو وسلەوالو ډلو ته نه، بلکې ملي اجماع ته اړتيا لري؛ او د نظام د پاشل کېدو يوه بل ناورين ته نه، بلکې اوږدمهاله سياسي تفاهم ته اړتيا لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ